# ټول قرآن د حُضُور ﷺ

# نعت دے

14-October-2021



هفته وراه د سُنَّتو دکه اِجتِماع کښې کيدونکے

د سُنَّتو دک بيان

(For Islamic Brothers)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الۡمُرۡسَلِيۡنَ

اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ؕ

# تهول قرآن د حُضُور ﷺ نعت دے

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيۡكَ يَا رَسُوۡلَ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ يَا حَبِيۡبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيۡكَ يَا نَبِیَّ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ يَا نُوۡرَ اللّٰه

نَوَيۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِكَافِ (**ترجمه**: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِيَّت اوکړو)

مُحترمو اسلامي وروڼړو! چې کله جُمات ته داخل شئ، چې ياد مو وي نو د اِعتِکاف نِيَّت کوئ، تر څو چې جُمات کښې ئې نو د اِعتِکاف ثواب به مو کيږي.

ياد ساتئ! جُمات کښې د خوراك څښباك، اُوده کيدو يا پيشمني او روژه ماتي کولو، تر دې چې د آبِ زَم زَم يا دَم کړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته که د اعتکاف نِيَّت مو کړے وي نو دا ټهول کارونه به ضِمناً جائز شي.

## د دُرُود شريف فضيلت

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼړو! د دُرُود شريف دومره بيشميره فضائل او بَرَکات دي چې قلمونه او سياهي به په ليکلو ليکلو ختم شي، د بيان الفاظ به ختم شي خو حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې د درود شريف لوستلو برکتونه او

فضيلتونه به ختم نه شي. ياد ساتئ چې دُرُود شريف يو داسې عمل دے چې دا عمل پخپله **الله** رَبُّ الْعِزَّت جَلَّ شَانُهٗ هُم کوي، چنانچه قرآنِ کريم، دوه ويشتمه سيپاره آيت نمبر ۵۶ کښې **الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰى اِرشاد فرمائي:

اِنَّ اللّٰهَ وَ مَلٰٓىِٕكَتَهٗ يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّؕ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَ سَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا(۵۶)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: بيشکه **الله** او د هغه فرښتے دُرُود ليږي په هغه عيب ښودونکي (نبي) باندې، اے ايمان والؤ په هغوئي دُرُود او ډير سلام اوليږئ.

**اے عاشقانِ رَسُول!** معلومه شوه چې ✿ **الله** پاك او د هغه فرښتے په نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې دُرُود ليږي. ✿ دا آيتِ مبارکه د حُضُور **سَيِّدُ الْمُرسَلِين، خَاتَمُ النَّبِيِّين، جنابِ رَحمةٌ لِّلعٰلَمِين** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صَريح [يعني واضحه] نعت دے ✿ په دې آيت کښې مسلمانانو ته په خپل خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې د دُرُود و سلام وئيلو حُکم ورکړے شوے دے ✿ دا هُم معلومه شوه چې صرف په خوږ نبي آخرُ الزَّمان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې دُرُود ليږل هغه عمل دے چې الله پاك ئې هم کوي او فرښتے ئې هُم کوي او مومنانو ته هُم د هغې حُکم ورکړے شوے دے.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!     صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدلو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه کوو: **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: " اَفْضَلُ الْعَمَلِ اَلنِّيَّةُ الصَّادِقَةُ

“ رښتينے نيت بهترين عبادت دے.[1]

اے عاشقانِ رسول! نيك او جائز كار كښې چې څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات كيږي.

❀ د عِلمِ دِين حاصلولو نِيَّت اوكړئ او نور دا نيتونه اوكړئ چې ❀ نظر به ښكته ساتم او ښه په غورسره به بيان اورم. ❀ چې څومره كيدے شي د ډېره وهلو په ځائے به د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت د اَلتَّحِيَّات په شكل كښې كښينم ❀ د علم زده كولو د پاره به پوره بيان اورم ❀ د بيان په دوران كښې به د سُستئ نه ځان بچ ساتم ❀ د خپلې اصلاح د پاره به بيان اورم ❀ څه چې واورم نورو ته به ئې د رَسَولو كوشش كووم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خورو او مُحترمو اسلامي ورونړو! نن زمونږ د بيان موضوع ده ”ټول قرآن د حُضُور ﷺ نعت دے“ په دې كښې به مونږه بيانوو د حُضُورِ نبي كريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خُلقِ عظيم. شان و عظمت، فضائل و بركات او هغه خصوصيات كوم چې په قرآنِ كريم كښې بيان شوي دي، مثلاً په قرآنِ كريم كښې بعضې ځائے كښې هغوئي ته شفاعت كولو والا وئيلے شوے دے، بعضې ځائے كښې ورته سِراجاً مُّنِيرًا وئيلے شوے دے. بعضې ځائے كښې ورته يٰسٓ او طٰهٰ وئيلے شوے دے، بعضې ځائے كښې ورته مُزَمِّل او مُدَّثِّر وئيلے شوے دے، الغرض الله پاك خپل محبوب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى



[1]…جامع صغير، صفحه:81، حديث:1284۔

عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته بیشمیره اوصاف او خصوصیات ورکړي دي، د دې مُتَعَلِّق به اورو. اے کاش! چې مونږ ته ټول بیان د ښو ښو نیتونو او مکمل توجه سره د اوریدلو سعادت رانصیب شي. راځئ چې د عَظَمتِ مُصطَفیٰ نه ډك یو څو واقعات واورو: چنانچه

## يَا رَسُوْلَ اللهِ اُنْظُرْ حَالَنَا

چې کله به حضورِ اقدس صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم صحابهٔ کرامو عَلَیۡہِمُ الرِّضۡوَان ته څه تعلیم و تلقین فرمائیلو نو صحابهٔ کرامو به کله کله په مینځ کښې عرض کولو ''رَاعِنَا یَارَسُوْلَ الله'' د دې دا معنیٰ ده چې یارَسُولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زمونږ د حال رعایت اُوفرمائے یعني کلامِ اقدس باندې په صحیح طریقه د پوهیدلو موقع راعنایت کړئ- د یهودیانو په لُغت کښې دې جُملے د بے ادبئ معنیٰ لرله نو یهودیانو په غلط نِیَّت دا جمله وئیل شروع کړه حضرت سَعْد بِن مُعاذ رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د یهودیانو د اصطلاح نه واقف وو، دوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ یو ځل دا جمله د یهودیانو د خُلې نه واوریدله نو ورته ئې اُوفرمائیل چې اے د خُدائے دُښمنانو! په تاسو دِ لعنت وي، که بیا مې دا جُمله د چا نه د خُلې نه واوریدله نو د سر به ترینه به کټ کړم- یهودیانو اُووئیل: زمونږ په وینا خو تاسو خفه کیږئ حالانکه مسلمانان هم دا جمله وائي، په دې خبره هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ډیر خفه شو او د حضورِ انور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضریدو والا وو چې دا آیت نازل شو چې

په هغې کښې د " رَاعِنَا " وئیلو ممانعت راغلے او د دې معنې د بل لفظ " اُنْظُرْنَا " وئیلو حُکم اوشو- -(قرطبی، البقرة، تحت الآیة: ۱۰۴، ۱/۴۵۴۴، الجزء الثانی، تفسیر کبیر، البقرة، تحت الآیة: ۱۰۴، ۱/۶۳۴، تفسیر عزیزی(مترجم)۲/۶۶۹، ملتقطاً)

چنانچه پاره 1، سُوْرَةُ الْبَقَرَه آیت نمبر 104 کښې اِرشاد کیږي:

| | |
|---|---|
| یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقُوْلُوْا رَاعِنَا وَ قُوْلُوا انْظُرْنَا وَ اسْمَعُوْا ؕ وَ لِلْكٰفِرِیْنَ عَذَابٌ اَلِیْمٌ ﴿۱۰۴﴾ (پ ۱، البقرة : ۱۰۴) | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: اے ایمان والؤ! راعِنا مه وائے او داسې عرض کوئ چې حُضُور! په مونږ نظر اُوفرمائے او د مخکښې نه په غور سره اورئ او د کافرو د پاره دردناک عذاب دے. |

د دې آیتِ کریمه لاندې په تفسیر صِراطُ الْجِنان کښې درج یو څو عِلمي فائدے پیشِ خدمت دي: (1) د انبیائے کرامو عَلَیْهِمُ السَّلَام تعظیم و توقیر او ادب فرض دے، په کومه جُمله کښې چې د ترکِ ادب اندیشه وي هغه په ژبه راوړل ممنوع دي-

(2) هغه الفاظ چې دوه معنې لري یعني ښه او غلطه معنیٰ، او د وئیلو په وخت کښې غلطې معنې ته خیال ځي نو هغه هُم د الله پاک او حُضُورِ اقدس صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم [او نورو انبیائے کرامو عَلَیْهِمُ السَّلَام] د پاره استعمالول ممنوع دي-

(3) دا هُم معلومه شوه چې د حضور خَاتَمُ النَّبِیّن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دربار ادب الله پاک پخپله ښائې او د هغوئې د تعظیم مُتَعَلِّق احکام پخپله جاري کوي-

(4) په دې آيت کښې دې خبرې ته اِشاره ده چې د انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام په شان کښې بے ادبي کول کُفر دے-

يَارَسُوْلَ اللهِ اُنْظُرْ حَالَنَا طالبِ نظرِ کرم بدکار ہے
يَاحَبِيْبَ اللهِ اِسمَعْ قَالَنَا اِلتجاء یا سَیِّدَ الْاَبْرار ہے
اِنَّنِی فِی بَحرِ هَمٍّ مُّغْرَقٌ ناو ڈانواں ڈول در منجدھار ہے
خُذْ یَدِیْ سَهِّلْ لَّنَا اَشْکَالَنَا نا خُدا آؤ تو بیڑا پار ہے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## عِلمِ غیبِ مُصطَفٰی

اے عاشقانِ مِیلاد! راځئ چې يوه بله واقعه د آيتِ مبارکه، د هغې د شانِ نُزُول او تفسيري نُکاتو سره واورو: چنانچه يو ځل تاجدارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل چې "زما د اُمَّت د پيدائش نه مخکښې چې کله زما اُمَّت د خاورې په شکل کښې وو، هغه وخت هغوئي زما په وړاندې په خپلو شکلونو کښې پيش کړے شو ځنګه چې په حضرتِ آدم عَلَيْهِ السَّلَام پيش کړے شوي وو او ما ته عِلم راکړے شو چې څوک به په تاسو ايمان راوړي او څوک به کُفر کوي- دا خبر چې کله منافقينو ته اورسيدو نو هغوئي بطورِ اِستِهزاء [يعني د ټوقې په طور] اُووئيل چې د مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګُمان دے چې هغوئي ته دا عِلم دے چې کوم خلق لا پيدا شوي نه دي په هغوئي کښې به څوک په دوئي ايمان راوړي او څوک به کُفر کوي، او حال دا دے چې مونږ د دوئي سره يو ځائے اوسيږو او مونږه نه پيژني. په دې خبره حُضُور سَيِّدُالْمُرسَلِين، خَاتَمُ النَّبِيِّين، صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

په منبر اودریدلو او د **اللّٰه** پاک د حَمد و ثناء نه پس ئې اُوفرمائیل: د هغه خلقو څه حال دے کوم چې زما په عِلم کښې طَعن (یعني اعتراض) کوي، د نن ورځې نه تر قیامته پورې چې څه کیدو والا دي، په هغې کښې داسې یو څیز نشته چې د هغې تاسو زما نه تپوس اوکړئ او زه تاسو له خبر درنکړم. حضرتِ سَیِّدُنا عبدُاللّٰه بِن حُذافه سهمي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ اودریدلو او اُوئې وئیل: یارَسُولَ اللّٰه! صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما پلار څوک دے؟ اِرشاد ئې اُوفرمائیل: حُذافه، بیا حضرتِ عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ اودریدلو او عرض ئې اوکړو: یارَسُولَ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! مونږه د اللّٰه پاک په رُبُوبِیَّت راضي شولو، د اسلام په دِین کیدلو باندې راضي شولو، د قرآن په اِمام او پیشوا کیدلو باندې راضي شولو، ستاسو صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په نبي کیدلو باندې راضي شولو، مونږ. تاسو نه معافي غواړو. تاجدارِ رِسالت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اُوفرمائیل: آیا تاسو به [داسې خبرو نه] منع شئ؟ آیا تاسو به [داسې خبرو نه] منع شئ؟ بیا د منبر نه راکوز شولو، په دې باندې **اللّٰه** پاک دا آیت نازل کړلو-

(خازن، اٰل عمران، تحت الآیة: ۱۷۹، ۱/۳۲۸)

| | |
|---|---|
| مَا كَانَ اللّٰهُ لِيَذَرَ الْمُؤْمِنِيْنَ عَلٰى مَاۤ اَنْتُمْ عَلَيْهِ حَتّٰى يَمِيْزَ الْخَبِيْثَ مِنَ الطَّيِّبِ ؕ وَ مَا كَانَ اللّٰهُ لِيُطْلِعَكُمْ عَلَى الْغَيْبِ وَ لٰكِنَّ اللّٰهَ يَجْتَبِيْ مِنْ رُّسُلِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ۪ فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَ | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: اللّٰه مسلمانان په هُم دې حال باندې پرېښودونکے نه دے په کوم چې تاسو ئې تر څو چې جُدا نه کړي ګنده د صفا نه او د اللّٰه دا شان نه دے چې اے عامو خلقو تاسو ته د غیبو عِلم درکړي، خو اللّٰه غوره کوي د خپلو رسولانو نه چا له چې اُوغواړي نو ایمان راوړئ په اللّٰه او د |

| | |
|---|---|
| رُسُلِهٖ ۚ وَ اِنْ تُؤْمِنُوْا وَ تَتَّقُوْا فَلَكُمْ اَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۷۹﴾ | هغه په رسولانو، او که ایمان راوړئ او پرهیزګاري اوکړئ نو ستاسو د پاره لوئ ثواب دے- |

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د دې آیتِ کښې چې مبارکه په تفسیر کښې مُفَسِّرِ قرآن حَکِیمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہِ کوم نکات پیش کړي دي راځئ چې د هغې نه څه واورو:

(1) یوه خبره دا معلومه شوه چې د حضور عَلَیۡہِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام په عِلمِ غیب باندې طعن (اعتراض) کول او دا وئیل چې حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته د فلانکي خیز عِلم نه وو د منافقینو طریقه ده-

(2) په مسلمان فرض دي چې د حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ټول اوصافِ حمیده بغیر د بحث نه اُومني-

(3) ربِّ کریم زمونږه آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته د قیامته پورې د هر هر خیز عِلم عطا کړے دے ځکه چې حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اُوفرمائیل چې څه غواړئ هغه تپوس اوکړئ! او دا (خبره هغه) کولے شي چې د چا عِلم مکمل وي-

(4) تر قیامته پورې ایمان راوړلو والا او منافقین ټول د حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په علم کښې دي- (شان حبیبُ الرّحمان، ص ۵۴، ۵۵ ماخوذاً)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د حضور ﷺ حُکم منل فرض دی

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼړو! راځئ چې يوه بله واقعه د آيتِ کريمه، شانِ نُزُول او تفسير سره واورو:

د مدينے اوسيدونکو به د غر نه راتلونکي اوبه خپلو باغونو ته ورکولې- هلته د يو انصاري د حضرتِ زُبير رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ سره جګړه اوشوه چې څوک به مخکښې خپل پټي ته اوبه ورکوي- دا معامله د حضور نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دربار کښې پيش شوه- سرکارِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائيل: اے زُبير! ته خپل باغ ته اوبه ورکړه او بيا د خپل ګاونډي طرف ته اُوبه پريږده- حضرتِ زُبير رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ ته څکه مخکښې د اوبو ورکولو اجازت ورکړے شو چې د هغوئي پټے مخکښې راتلو، د دې باوجود ورته سرکارِ دوعالَم صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم انصاري سره هُم د احسان کولو اُوفرمائيل، خو مجموعي فيصله په انصاري ښه اُونه لګيده او د هغه د ژبې نه دا خبره اُووتله چې زُبير ستاسو د ترور ځوئ دے- باوجود د دې چې په فيصله کښې ئې حضرتِ زُبير رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ ته انصاري سره د احسان کولو هدايت اوکړو خو انصاري د دې فيصلے قدر اونکړو نو حضور صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرتِ زُبير رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ ته حُکم اوکړو چې خپل پټي ته اوبه ورکړه او اوبه حصارې کړه- په دې باندې دا آيت نازل شو- (بخاری، کتاب الصلح، باب اذا اشار الامام بالصلح۔۔۔ الخ، ۲/۲۱۵، الحدیث: ۲۷۰۸ ازتفسیر صراط الجنان، ۲/۲۳۹)

اللہ پاک اِرشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| فَلَا وَ رَبِّكَ لَا يُؤْمِنُوْنَ حَتّٰى يُحَكِّمُوْكَ فِيْمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوْا فِيْۤ اَنْفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَ يُسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ﴿۶۵﴾ (پ۵النسآء:۶۵) | [مَفھُوم] ترجمهٔ کنزُالاِیمان : نو اے محبوبه! ستاسو د رب په قسم! هغوئي به مسلمانان نه شي تر څو چې د خپل مينځ په جګړه کښې تا حاکِم جوړ نه کړي، بيا چې ته څه حُکم اُوفرمائے په خپلو زړونو کښې د هغې نه رُکاوټ محسوس نه کړي او د زړه نه ئې اُومني- |

د دې آيتِ مبارکه لاندې چې په تفسير صِراطُ الْجِنان کښې کوم مدني ګلونه درج دي، راځئ چې د هغو نه يو څو واورو: (1) په دې آيت کښې اللّٰه پاک د خپل رب کيدلو نسبت د خپل حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم طرف ته اوفرمائيلو او اوئې فرمائيل: اے حبيبه! ستا د رب په قسم- دا د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عظيم يعني ډير لوئ شان دے چې اللّٰه تعالیٰ خپله پيژندګلو د خپل حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ذريعه بيانوي-

(2) (اللّٰه پاک د) حُضُورِ انور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خبره منل فرض قرار کړل او دا خبره ئې د خپل رب کيدلو د قَسم سره پخه کړه-

(3) (اللّٰه پاک د) حُضُورِ انور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حُکم منلو نه انکار کوونکے کافر قرار کړو-

(4) د رسولِ کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حُکم منل د زړه نه منل ضروري دي او د دې په باره کښې په زړه کښې هُم رکاوټ کيدل نه دي پکار، ځکه ئې د آيت په آخره کښې اُوفرمائيل چې په خپلو زړونو کښې د حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ

وَسَلَّم د حُکم مُتَعَلِّق هیڅ قِسم رکاوټ محسوس نه کړي او د زړه نه ئې تسلیم کړي-

(5) د دې نه دا هُم معلومه شوه چې د اسلامي احکامو منل فرض دي او د دې نه منل کُفر دے، د دې نه علاوه په دې اعتراض کول، او په دې پوره توقي کول کُفر دے- (از تفسیرِ صراط الجنان، ۲/۲۳۹و۲۴۰)

مىں تو مالک ہی کہوں گا کہ ہو مالک کے حبیب — یعنی محبوب و مُحِبّ میں نہیں میرا تیرا

(حدائقِ بخشش، ص۱۶)

**مختصر وضاحت:** یعنی ولے چې زمونږه آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو جهانونو د خالق او مالِک حبیب دے، نو دغسې خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټول جهان مالِک شولو- ځکه چې د مُحِب هر څیز د محبوب وي-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## الله پاک د مُحَمَّد ﷺ رضا غواړي

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! راځئ چې یوه بله واقعه د آیتِ کریمه، شانِ نُزُول او تفسیري نکاتو سره واورو:

چنانچه تفسیر صِراطُ الْجِنان کښې دي چې کله حضورِ اقدس صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مدینے مُنَوَّرے ته تشریف راوړلو نو هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د لمانځه د پاره د بیتُ الْمُقَدَّس طرف ته د مخ کولو حُکم ورکړے شو او نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د الله پاک د حُکم پیروي اوکړه او هُم هغه طرف ته ئې لمونځونه ادا کول شروع کړل- البته د حضورِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د زړه مبارک خواهش دا وو چې خانۀ کعبه د مسلمانانو قبله جوړه شي- چنانچه

يوه ورځ د لمانځه په حالت کښې حضور نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دې اُمِّيد بيا بيا د آسمان په لورې کتل چې د قبلے د تبديلئ حُکم راشي، په دې باندې د لمانځه په دوران کښې دا آيتِ کريمه نازل شو په کوم کښې ئې چې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رضا رضائے اِلٰهی قرار کړه او د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د روښانه مخ مبارک بيا بيا د آسمان په لورې د اوچتيدلو ښکلے انداز ئې په قرآن کښې بيان کړو او د حضورِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خواهش او خوشحالئ مطابق خانه کعبه قبله جوړه کړے شوه چنانچه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عين د لمانځه په حالت کښې خانه کعبے طرف ته اوګرځيدلو، مسلمانانو هُم خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره کعبے طرف ته مخ کړو او د ماسپښين دوه رکعته بيتُ المُقَدَّس طرف ته اوشو او دوه رکعته خانۀ کعبے طرف ته ادا کړے شو (تفسير صراط الجنان، ۱/۲۳۳ملتقطاً) هغه آيتِ کريمه کوم چې نازل شُو هغه دا دې:

| | |
|---|---|
| قَدْ نَرٰى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَآءِ ۚ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضٰىهَا ۪ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ؕ وَ حَيْثُ مَا كُنْتُمْ فَوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ شَطْرَهٗ ؕ | [مَفهُوم] ترجمۀ کنزُالاِيمان: مونږه ستا بيا بيا د آسمان طرف ته مخ کول وِينو نو ضرور مونږ به تا اوګرځوو د هغې قبلے په طرف په کومه کښې چې ستا خوشحالي ده، اوس خپل مخ اوګرځوه د مسجدِ حرام طرف ته او اے مسلمانانو تاسو چې هر ځائے کښې ئې خپل مخونه د هُم دې طرف ته کوئ. |

| (پ۲، البقرة:۱۴۴) | |
|---|---|

مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه چې د دې آیتِ کریمه لاندې کوم نکات بیان کړي دي، راځئ چې د هغې نه څه واورو:

(1) د دې واقعے نه معلومیږي چې ټول خلق د قانون پابند وي او قانون د محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خوښې مُنتظر دے۔

(2) کعبے ته چې کوم عزت ملاو شو چې ټول اولیاء، غوث و قُطب دِ د هغې په لورې ختونه ښکته کوي دا د محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خاطر ملاو شو، د هغوئې خوښې کعبه تر قیامته پورې قِبله جوړه کړه۔

(شان حبیبُ الرّحمان، ص ۴۲)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ټول کثرت هغوئې ﷺ ته ورکړے شوے دے

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو!** که قرانِ کریم د اِیمان په نظر اوکتلے شي نو په دې کښې ځائے په ځائے د سرورِ کائنات صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعتونه ښکاري، که قرانِ کریم د محبتِ رسول صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نظر اوکتلے شي نو د دې په هر هر حَـرف کښې د نبـي کریم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تعریف دے، که قرانِ کریم د اِطاعتِ رسول صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نظر اوکتلے شي نو ځائے په ځائے پکښې د رسولِ اکرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان و عظمت ښکاري، الغرض که د الله پاك حَمْد و ثناء وي یا د عقائدو آیتونه، که د تیرو انبیاؤ عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام واقعات وي او که د هغوئې د اُمَّتونو احوال، د قرآنِ کریم هره یوه موضوع کښې د محبوبِ کریم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوصاف موجود دي. الغرض!

ټول قرآن پاك د حُضُور اکرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعت او شان بيانوي. چنانچه

الله پاك په سيپاره ۳۰ سورۂ کوثر آيت نمبر۱ کښې داسې ارشاد فرمائي:

اِنَّآ اَعْطَيْنٰكَ الْكَوْثَرَؕ(۱)
(پ۳۰، الکوثر:۱)

مفهوم تَرجَمَۂ کنزُالایمان: اے محبوب بيشکه مونږه تا ته بيشُميره صفتونه درکړي دي.

حضرت عَلَّامه مولانا مفتي محمد نعيمُ الدِّين مُـراد آبادی رَحمَۃُ اللهِ تعالٰی عَلَيه د دې آيت کريمه لاندې فرمائي: (اے محبوب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! بيشکه مونږه تا ته بيشميره صفتونه درکړي دي) او ډير فضائل مو درکړي دي، په ټول مخلوق کښې مو افضل جوړ کړے ئې، ظاهري حُسن مو هُم در کړے دے، باطني حُسن مو هم (درکړے دے)، اعلیٰ نسب مو هم در کړے دے او د نُبُـوَّت اعلیٰ مرتبه هم، د حوضِ کوثر (په شان عظيم نعمت) مو هم (در کړے دے او) مقامِ مَـحمود هم، ډير زيات اُمَّت هم (ستاسو حصه ده او) په دښمنانِ اسلام باندې غلبه مو هم (تاسو ته عطا کړې ده)، کثرت سره فتوحات هم (ستاسو لپاره دي) او بيشميره نعمتونه او فضيلتونه (مو تاسو ته داسې عطا کړي دي) چې د هغې حد نشته. (خزائن العرفان، ص:۱۱۲۲، ملخصاً)

اعلیٰ حضرت امامِ اَهلِسُنَّت رَحمَۃُ اللهِ عَلَيه خپل نعتيه کلام کښې هم دې خبرې ته اشاره کوي، فرمائي:

رب ہے مُعطِی یہ ہیں قاسم　　رزق اس کا ہے کھلاتے یہ ہیں
اِنَّا اَعْطَیْنٰكَ الْکَوْثَر　　ساری کثرت پاتے یہ ہیں
(حدائق بخشش، ص ۴۸۲)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!     صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# حوض کوثر به چا ته نصیب کیږي؟

سُبْحٰنَ الله! زمونږ آقا مکّی مَدَنی مُصطَفیٰ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته ډیر څه عطا کړے شوي دي او ډیر څه به ورعطا کیږي- راځئ ورارو چې حوضِ کوثر څه دي! **الله** پاک زمونږه خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته یو حوض عطا کړے دے چې د هغې اوبه د شودو نه زیاتې سپینې، د شهدو نه زیاتې خوږې او د مُشکو نه زیاتې خوشبودارې دي- څوک ئې چې یو ځل اوڅښي بیا به کله هُم نه تږے کیږي. حضورِ اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د دغې نه په خپل اُمَّت باندې څښي.

( کتاب العقائد، ص ٣٦ ملخصاً)

د قیامت په ورځ به چې کله د نفسا نفسي عالَم وي او د سختې ګرمئ په وجه به د خلقو ژبې د وچیدو په وجه د ازغي په شان شوي وي، په داسې وخت کښې هغه خلق خوش نصیبه وي په چا باندې به چې **الله** پاک د خپل **محبوب** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حوض نه په مړه ګیډه اوبه ورکوي، په روایاتو کښې د داسې نیکو بیان موجود دے د کومو په بَرَکت به چې جامِ کوثر نصیب کیږي، د هغه روایاتو خلاصه دا ده چې ❁ آبِ کوثر به هغه چا ته ورکولے کیږي څوک چې کثرت سره دُرود شریف وائي ❁ آب کوثر به هغه چا ته نصیب کیږي څوک چې په روژه دار باندې طعام خوري- ❁ آب کوثر به هغه چا ته نصیب کیږي څوک چې د غیر ضروري خبرو نه ځان ساتي- ❁ آب کوثر به هغه چا ته

نصيب کيږي خوک چې د **اللّٰه** د لارې په مسافرو باندې اوبه څښنبي-

(ماہنامہ فیضانِ مدینہ صفر المظفر ۱۴۴۱ھ، ص۲۱ ملخصاً وماخوذاً)

ٹھنڈا ٹھنڈا میٹھا میٹھا پیتے ہم ہیں پلاتے یہ ہیں

(الاستمداد،ص۷)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ستا د نوراني مخ قَسم

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** مونږه په قرآنِ پاك کښې بيان شوو د نبي اکرم صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تعريف او اوصافو په باره کښې بيان اوريدلو، اللّٰه پاك په خپل پاك کلام کښې د خپل محبوب صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په قِسم قِسم صفتونه بيان کړي دي. بعضې ځائے کښې په ډيرو آيتونو کښې د حُضُور صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعت موجود دے او بعضې ځائے کښې پوره پوره سورت د محبوب اوصاف بيانوي، بعضې ځائے کښې ئې د محبوب د قدمونو سره د لګيدلي خاورې قسم بيان کړے دے نو بعضې ځائے کښې ئې د محبوب د ښار قسم بيان کړے دے. بعضې ځائے کښې ئې د محبوب سره نسبت لرونکو څيزونو عظمت او اوچتوالے بيان کړے دے. بعضې ځائے کښې ئې د محبوب د مبارك مخ قسم بيان کړے دے، بعضې ځائے کښې ئې د محبوب د لمُونځونو قسم بيان کړے دے نو بعضې ځائے کښې ئې د محبوب د شپے په تياره کښې عبادت کول بيان کړي دي. الغرض پوره کلامِ اِلٰهي د حُضُور صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعت دے.

سُوْرَةُ الضُّحٰی اوګورئ دا مکمل سورت د حضور صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په صفت مشتمل دے. خاص طور دې وړومبنو دوو آيتونو کښې خو ئې ډير په ښکلي انداز کښې د مصطفیٰ کريم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم، مبارك مخ ته د څاښت سره او مبارکو زُلفو ته د شپے د تِيارے سره تشبيه ورکړې ده، چنانچه

الله تعالیٰ ارشاد فرمائي:

وَالضُّحٰى ۝١ وَالَّيْلِ اِذَا سَجٰى ۝٢

(پ:۳۰، الضحیٰ:۱، ۲)

مفهوم ترجمهٔ کنز الايمان: د څاښت قسم او د شپے چې کله پرده خوره کړي.

په دې آيتونو کښې د څاښت او د شپے د تِيارے نه څه مراد دے؟ د دې په باره کښې د مفسرينو او علمائے کرامو مختلف اقوال دي.

حضرت سيّدنا امام فخر الدين رازي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي:

"وَالضُّحٰى" نه مراد د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نوراني روښانه مخ قسم او "وَالَّيْل" نه مراد د هغوئي صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تورو زلفو قسم.

(تفسير کبير، ۱۱/۱۹۱ماخوذاً)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! غور اوکړئ! الله پاك څنګه په ښکلي انداز کښې د خپل خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د روښانه نوراني مخ او ښکلو ښائسته زُلفو قسم فرمائيلے دے، صرف دا نه بلکه **الله** پاك په قرآنِ کريم کښې د خپل محبوب صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اداګاني او هغوئي سره د تعلق لرونکو مختلفو څيزونو قسم هم بيان کړے دے. راځئ چې واورو.

الله پاك د خپل محبوب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خوږو او ښکلو خبرو قسم داسې فرمائيلے دے: وَقِيْلِهٖ يٰرَبِّ اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ قَوْمٌ لَّا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۸۸﴾ (پ۲۵، الزخرف:۸۸)

مفهوم ترجَمهٔ کنزالایمان: زما د محبوب د دې وينا قسم چې اے زماربه! دا خلق ايمان نه راوړي.

الله پاك د خپل محبوب کريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مبارك عمر قسم هم فرمائيلے دے: لَعَمْرُكَ اِنَّهُمْ لَفِيْ سَكْرَتِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ﴿۷۲﴾ (پ۱۴، الحجر:۷۲)

مفهوم تَرجَمَهٔ کنز الایمان: اے محبوب! ستاسو د عُمر قسم بيشکه هغوئي په خپله نشه کښې سرګردانه دي.

الله پاك د خپل خوږ محبوب کريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مُقَدَّس ښار قسم فرمائيلے دے: لَآ اُقْسِمُ بِهٰذَا الْبَلَدِ ﴿۱﴾ (پ۳۰، البلد:۱)

مفهوم تَرجَمَهٔ کنزالایمان: زما دِ قسم وي د دې ښار.

الله پاك د نبي کريم، رسولِ عظيم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د زمانے مبارکے قسم فرمائيلے دے: وَالْعَصْرِ ﴿۱﴾ (پ۳۰، العصر:۱)

مفهوم تَرجَمَهٔ کنزالایمان: د دې محبوب د زمانے قسم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

دولسو ديني کارونو کښې يو ديني کار "چوك درس"

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه!** د دعوتِ اسلامي په ديني ماحول کښې د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان و عظمت بيانيږي، اَلْحَمْدُ لِلّٰه په دې ماحول کښې د خلقو په زړونو کښې محبتِ رسول صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پيدا کيږي. تاسو هم پخپلو زړونو کښې د محبتِ رسول صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شمع روښانه کولو د پاره د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اسلامي ديني ماحول کښې شامل شئ او د ذِيلي حلقے په دولسو ديني کارونو کښې په اخلاص سره خپل کردار ادا کړئ او د ډيرو ثوابونو حقدار جوړ شئ.

ياد ساتئ! د ذِيلي حلقے په دولسو ديني کارونو کښې يو د روزانه ديني کار ”**چوك درس**“ هم دے. د دې ديني کار بيشميره فائدے دي، مثلاً ▪ ”**چوك درس**“ مسلمانان د بدو (کارونو) نه د بچ کولو ذريعه ده، ▪ ”**چوك درس**“ بيلمانځه لمُونځ گزاره جوړوي، ▪ ”**چوك درس**“جمات ته نه راتلونکي جمات ته نِزدے کوي، ▪ د ”**چوك درس**“ په برکت د نيکو رَغبَت پيدا کيږي، ▪ د ”**چوك درس**“ په برکت په علاقه کښې ديني کارونه ترقي کوي. ▪ ”**چوك درس**“ د لمُونځو د پابندئ د سوچ ورکولو نه علاوه د عِلمِ دين د ډيرو خبرو زده کولو ذريعه ده. راځئ چې د ترغيب د پاره د چوك درس يو مدني سپرلے واورو، چنانچه

## د چوك درس په برکت زما اصلاح اوشوه

د لائنز ايريا (کراچي) په يوه کوڅه کښې ولاړ د دعوتِ اسلامي يو

عمامے والا اسلامي ورور يواځې چوك درس ورکولو، يو کس چې هغه د دين نه عملي طور دومره لرې وو چې شنې عمامے والؤ نه خو به لرې تښتيدلو خو چې هغه اسلامي ورور ئې يواځې په درس ورکولو اوليدلو نو پته نشته چې ولے ئې زړه نرم شو او هغه په چوك درس کښې شريك شو، په چوك درس کښې شريك کيدل د هغه د اصلاح سبب اوګرځيدل او هغه ديني ماحول کښې شامل شو، د دې بيان ورکولو وخت کښې اَلْحَمْدُلِلّٰه هغه علاقائي سطح باندې د مدني انعاماتو ذمه دار دے، يوه ورځ هغه وه چې هغه د شنې عمامے والؤ نه لرې تښتيدلو خو اَلْحَمْدُلِلّٰه نن د هغه په سر هم د عِمامے شريفې تاج ځليږي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اے د ميلاد شريف عاشقانو! د دُنيا دستور دے چې کله بادشاه په خپلو درباريانو کښې چا باندې خپل خاص عنايتونه کوي نو هغه ته داسې خاص خاص انعامات ورکوي، چې د هغې په وجه د هغه مرتبه او قدر د هر کس په نظر کښې زيات شي او د هغه حيثيت د نورو نه بالکل ښکاره او جدا شي او هغه کمالونه او مرتبے چې نورو خلقو ته هُم ورکړے شوي وي نو بادشاه خپلو خاصو درباريانو ته هغه [کمال او مرتبے] ورکولو سره سره نورې ډيرې ښے ښے مرتبے هُم ورکوي دغه شان الله پاك خپل خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د ټولو مخلوقاتو نه زيات انعامونه [کمال او مرتبے] ورکړې دي او په خپلو خاصو مهربانو ئې ډير ډير شرف ورکړے دے او په قرآن

کريم کښې **ربّ** کريم په مختلفو مقاماتو کښې د مختلفو الفاظو په ذريعه د خپل حبيب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صفتونه بيان کړي دي، چنانچه

▪ په **سُوْرَةُ الْفَتْح** آيت نمبر 29 کښې خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته "**مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ الله**" وئيلے شوي دي، ▪ په سورۂ آلِ عمرٰن آيت نمبر 33 کښې هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته "**مصطفٰی**" وئيلے شوے دے، ▪ په سورۂ آلِ عمرٰن آيت نمبر 179 کښې ورته "**مُجتبٰی**"وئيلے شوے دے، ▪ په سورۂ **جِن** آيت نمبر 15 کښې هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د "**مرتضٰی**" په لقب ياد شوے دے، ▪ په سورۂ **بنی** اسرائيل آيت نمبر 1 کښې ورته "**عَبدِ کامل**"وئيلے شوے دے ▪ سورۂ **مائده** آيت نمبر 15 کښې هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته "**نُور**" وئيلے شوے دے. ▪ په سورۂ **نِساء** آيت نمبر 174 کښې ورته "**بُرهان**"سورۂ اَحزاب آيت نمبر45 کښې ورته "**حاضر** و **ناظر**"، "سراج منير" او "**دَاعِيًا اِلَى الله**" (يعني الله طرف ته رابللو والا) وئيلے شوے دے. ▪ په سورۂ يٰسين آيت نمبر 1 کښې هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته **يٰس** وئيلے شوے دے. ▪ سورۂ طٰهٰ آيت نمبر 1 کښې ورته **طٰهٰ** وئيلے شوے دے. ▪ سورۂ **بقره** آيت نمبر ۱۱۹ کښې ورته **بشير** (يعني زيرے وروکوونکے) او **نذير** (ويره اوروونکے) وئيلے شوے دے، ▪ سورۂ **مُزَّمِّل** آيت نمبر 1 کښې هغوئي ته **مُزَّمِّل** ▪ په **سُوْرَةُ مُدَّثِّر** آيت نمبر 1 کښې ورته **مُدَّثِّر** فرمائيلے دے ▪ سورۂ آلِ عمرٰن آيت نمبر 164 کښې الله پاك هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مؤمنانو باندې "**احسان**" قرار کړے دے. ▪ په سورۂ انبياء آيت نمبر 107 کښې ئې

خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټول جهان د پاره رحمت قرار کړے دے. ▪ په سورۀ **قلم** آيت نمبر 4 کښې ئې نبـي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته صاحبِ خُلقِ عظيم وئيلے شوے دے. ▪ په سورۀ **بني اسرائيل** آيت نمبر 1 کښې ورته "**صاحبِ معراج**" وئيلے شوے دے. ▪ په سورۀ **بقره** آيت نمبر129 کښې ورته "**دُعائے ابراهيمي**" وئيلے شوے دے. ▪ په سورۀ **صَف** آيت نمبر6 کښې ورته "**بِشارتِ عيسٰى**" وئيلے شوے دے. ▪ په سورۀ **کوثر** آيت نمبر1 کښې ورته "**صاحِبِ کوثر**"، ▪ او په سورۀ **بني اسرائيل** آيت نمبر79 کښې ورته "**صاحِبِ مُقامِ مَـحمُود**" وئيلے شوے دے، الغرض ټول قرآن مجيد الله پاك د خپل محبوب کريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په شان کښې نازل کړے دے.

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## قرآن او صِفَتِ مصطفٰی ﷺ

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** تاسو واوريدل چې په قرآن مجيد کښې پخپله **الله** پاك د خپل محبوب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تعريف بيان کړے دے، د خپل محبوب اوصاف، شان و عظمت او خصوصيات ئې په خپل پاك کلام [قرآن مجيد] کښې ذکر کړي دي، دا دې خبرې ته اشاره ده چې دا څه عامه هستي نه ده، بلکه زما محبوب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو نه اعلٰى دے، زما محبوب د دواړو جهانونو سردار دے، زما محبوب په هر وَصف کښې لاجوابه دے، ما چې نورو انبياؤ عليهم السلام ته کوم [جُدا جُدا] صِفات عطا کړي دي، هغه ټول مې خپل محبوب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته يو ځائے عطا کړي دي چې

زما محبوب د ټولو نه اوچت شي.

اے رضاؔ خود صاحبِ قرآں ہے مدّاحِ حضور　　　تجھ سے کب ممکن ہے پھر مدحت رسول اللہ کی
(حدائقِ بخشش، ص۱۵۳)

**مختصر وضاحت:** په دې شعر مين اعلیٰ حضرت خپل ځان مخاطب کړے چې اے احمد رضا! که ته د خپل آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خومره هُم تعريف بيان کړې خو ته د دې حق نه شې ادا کولے ځکه چې د هغوئي رب عَزَّوَجَلَّ پخپله د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تعريف بيانوي نو بل څوک د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صفت بيانولو حق څنګه ادا کولے شي-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　　صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** مونږه د خوږ نبی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان مبارك، فضائل او خصوصيات د قرآنِ پاك د آيتونو په رنړا کښې واوريدل، يقيناً زمونږ د آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان خو بے مثاله دے، يقيناً په کوم ذات چې د الله پاك عظيم فضل وي د هغوئي فضيلت څوك بيانولے شي؟ حضرت امام قاضي عياض مالکي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه په "**شِفاء شريف**" کښې ارشاد فرمائي: حَارَتِ الْعُقُوْلُ فِي تَقْدِيرِ فَضْلِهِ عَلَيْهِ وَخَرِسَتِ الْأَلْسُنُ، يعنی د الله کريم کوم فضل چې په حُضُور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے، د هغې اندازه لګولو نه عقلونه حيران او ژبې عاجزه دي. (الشفاء بتعريف حقوق المصطفىٰ،۱/۱۰۳)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بيانات (Islamic Speeches) ايپلی کيشن تعارف

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د عاشقانِ رسول د صحبت کا يوه بهترينه

ذريعه د عاشقانِ رسول دِينى تحريک دعوتِ اسلامى دينى ماحول سره وابسته کيدل هُم دي. الله کريم امّتِ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته په هر دَور کښې داسې باکماله هستۍ عطا کړي دي چې هغوئي نه صرف پخپله د نيکۍ حُکم او د بدۍ نه د منع کولو مقدَّسه فريضه په احسن انداز کښې ادا کړي ده بلکه مسلمانون ته ئې **د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو** ذِهن ورکړو- په هُم هغوئي کښې يوه هستى شيخِ طريقت، اميرِ اَهلِ سنّت، حضرت علامه مولانا محمد الياس عطّارقادِرى دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هُم دے- د دوئي داخلاص په وجه په ډيره تيزۍ سره خلق د مَدَني تحريک حِصَّه جوړيږي، اَلْحَمْدُ لِله! په کروړاؤ خلق د اميرِ اَهلِسُنَّت د فيضان نه فيضياب کيږي. د اميرِ اهلِ سُنَّت د نيکۍ د دعوت د هُم دي مُقَدَّسې جذبے تحت د دعوت اسلامى "آئى ټه ډيپارټمنټ" د موبائل استعمالولو والؤ د پاره مختلف موبائل ايپلى کيشن جوړ کړي دي چې په هغې کښې په مختلفو طريقو د امّتِ مسلمه رهنمائى شوي ده، په دغه ايپلى کيشنز کښې د بياناتو يو ايپلى کيشن " Islamic Speeches " هُم دے، په دې ايپلى کيشن که په مختلفو موضوعاتو باندې بيانات موجود دي. د دې ايپلى کيشن نه اسلامى ورونړو سره سره اسلامى خويندې هُم فائده اوچتولے شي- خاص طور دا ايپلى کيشن د امام و خطيب حضراتو د پاره انمول تحفه ده، ځکه چې په دې کښې په مختلفو موضوعاتو باندې تيار شده بيانات په تحريرى صورت کښې موجود دي- هُم نن دا ايپلى کيشن ډاؤن لوډ کړئ او د خپل موبائل زينت ئې جوړ کړئ.

| | |
|---|---|
| اللہ کرم ایسا کرے تجھ پہ جہاں میں | اے دعوتِ اسلامی تری دھوم مچی ہو |
| الله دِ کرم اوکړي په تا داسې په جهان کښې | اے دعوتِ اسلامي ته مقبول شې په هر ځائے |

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د بیان په آخره کښې د سُنَّتو فضیلت او یو څو سُنَّتونه او آداب د بیانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنْشاهِ نُبُوَّت صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: "چا چې زما سُنَّتو سره مَحَبَّت اوکړو هغه زما سره مَحَبَّت اوکړو او چا چې زما سره مَحَبَّت اوکړو هغه به جنّت کښې زما سره وي." (ابنِ عساکر ج۹ ص۳۴۳)

| | |
|---|---|
| سینہ تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا |
| سِینه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدینه خوږه آقا | جنّت کښې مې خپل جوړ کړه ګاونډي خوږه آقا |

## "قَناعت" سُنَّتِ مُصطَفٰی دے

دوه فرامینِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: (1): چا چې ایمان راوړو، په قدر د کفایت رزق ورکړے شو او هغه د **الله** پاک په ورکړه قَناعت اوکړو بیشکه هغه کامیاب شوا[1] (2): اے ابو هُریره! قَناعت اختیار کړه د ټولو نه لوئ شُکر ګُزار به جوړ شې-[2]

اے عاشقانِ رسول! قَناعت سُنّتِ مُصطَفٰی دے- د قناعت کا معنیٰ ده: چې څومره ملاؤ شوه په هغې راضي اوسیدل، د ډیرې خواهش نه کول- ✿ زمونږه خوږ آقا، مکّی مَدَنی مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته به چې څه ملاؤ شو



1…مسلم، زکوٰۃ کی کتاب، قناعت کا باب، صفحہ:376، حدیث:1054۔
2…ابن ماجہ، زُہد کی کتاب، ورع و تقویٰ کا باب، صفحہ:684، حدیث:4217 ملتقطاً۔

www.dawateislami.net

په رضا او خوشحالئ به ئې خوړل ❁ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هيڅ کله هُم په طعام کښې عيب نه دے راوِيستلے ❁ خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کله هُم د خوندرو او بهترينو طعامونو خواهش نه دے کړے- ❁ رسولِ اَکرَم، نورِ مجسم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د مال و دولت خواهش نه لرلو-

کل جہاں مِلک اور جو کی روٹی غذا | اس شکم کی قناعت پہ لاکھوں سلام(1)

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! په سُنَّتِ مُصطَفٰی عمل اوکړئ، قناعت اختيار کړئ- ❁ قناعت د ايمان کمال او د اسلام حُسن دے- ❁ قناعت کوونکے ځان د دُنيا نه ساتي او د آخرت په لاره چليږي- ❁ قناعت کوونکے د الله پاک محبوب دے- ❁ قناعت کوونکي سره خلق هُم محبَّت کوي-2 ❁ امام شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: قناعت د مالدارئ اَصل دے-3

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴾1﴿ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِي الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

323

1…حدائقِ بخشش، صفحہ:304۔
2… نضرۃ النعیم، جلد:8، صفحہ:3175۔
3…دیوانِ امام شافعی، قافیہ: کاف، صفحہ:133۔

بُزرګانو فرمائيلي دي چې خوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندئ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

## اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخکښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

## صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.



1...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ملخصًا

2...القول البديع، الباب الثانی، ص٢٧٧

www.dawateislami.net

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشریف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَیْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[1] راځئ چې په شریکه ئې اُووائیو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ تر مینځه کښینولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم حیران شو چې دا څوک ذِی مَرتبه [یعني اوچتې مرتبې والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لَوَلي نو داسے ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.



1...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة الثانیة والخمسون، ص۱۴۹

2...القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

www.dawateislami.net

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوک چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَی اللّٰہُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا ھُوَ اَھْلُہٗ

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو



1...الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰

2...مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[1] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



1...تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث:۴۴۱۵

www.dawateislami.net